# زموږ په نوي ژوندکي نوي فکرونه

صورتگری که این قد و قامت کشیده است
بر کلکش آفرین، چه قیامت کشـــــیده است

د دنیا پر مخ ډېر ملتونه او مملکتونه سته، چي ځيني د خورا زاړه تاريخ خاوندان دي او ځيني داسي ممالك هم وينو، چي اوس پيدا سوي دي، او نومونه يې لا هم نوي دي.

د مملکتو په جوړېدلو کي ډېر عوامل او سببونه لاس لري، چي خورا غټ يې تاريخي او جغرافي او اقتصادي او سياسي عوامل شمېرل کيږي او کله چي د مملکتونو تاريخ او لرغونو واقعاتو ته ځير سو، نو داسي ښکاري، چي اقتصادي واقعيتونه تل د تاريخ او جغرافيا او سياست سره ملګري وي.

زموږ مملکت چي اوس "افغانستان" نوميږي، په پخوانو زمانو کي هم د "آريانا" او بيا (خراسان) په نامه هر وخت د منځنی آسيا په سياسي نقشه کي موجود و او د فرهنګ او هنر او علم او سياست له پلوه روڼ تاريخ لري.

کله چي موږ تاريخ يادوو، نو مو مطلب هغه د تاريخ نګاری زاړه اصول نه دي چي تاريخ يې د جهانګيرانو يا زمامدارانو په تاړاکونو کي محصور کړی و.

اوسنی تاريخ د واقعياتو علل پلټي، او هغه عوامل څېړي چي د يوه ملت وجود، د جغرافي او اقليمي او اقتصادي او حتی روحي او فکري مېرثاتو تر اغېزو لاندي څنګه والی مومي، او د تاريخ په مختلفو دورو کي راز راز اوښتني او تحولونه مني.

د افغانستان لرغونی وجود، او د دې سيمي د خلکو د مليت تشکيل هم د دې ځمکي له جيوفيزيکي عواملو او اقتصادي مشترکو ګټو او د جغرافي موقعيته سره ټينګه اړه لري، او د طبيعي عواملو هغه انځورګر، چي د دې مملکت نقشه يې په تاريخ کي کښلې ده، خورا يې سمه او ښکلې او پر خپل ځای طرحه کړې ده (بر کلکش آفرين ...).

د افغانستان د جيوفيزيکي او جغرافي او اقتصادي عوامل داسي دي چي له تاريخه وړاندي زمانې څخه بيا تر اوسه دلته د اجتماع او مملکت د تشکيل له پاره ځيني مويده استعدادونه سته، نو ځکه موږ وينو چي دلته هر کله د انسانانو لوی خلاقه قوتونه را برسېره سوي دي، لوی لوی مملکتونه جوړ سوي دي، سياسي او فکري او فرهنګي غورځنګونه پيدا سوي دي، او د انساني استعداد داسي مظاهر ځلېدلي دي چي د دې سيمي په تاريخ کې حقاً ځانته يو غوره او لوړ موقعيت ګټلی دئ.

که موږ په آسيا کي د بين النهرين او ايران او هند او ماوراء النهر او چين سيمي د مدنيتونو د پيدا کېدلو مراکز مومو، نو دلته د پخوانی آريانا او اوسني افغانستان ځمکي هم داسي دي، چي د مدنيت په پيدا کولو او روزلو کي ښکاره برخه لري، او د تاريخ په اوږدو لمنو کي دغه سيمه د مدنيت او فرهنګ د تګ او راتګ لاره وه، نو ځکه د دې ځمکي د مدنيت مرکزي عناصر، تل د نورو مدنيتونو په ښکلاوو هم پسوللي سوي دي.

دا خبره چي د افغانستان خلکو خپل زوړ او لرغونی مدنيت درلود، د ويدا او اوستا له پخوانو کتابونو څخه درې زره کاله دمخه ثابته ده او بيا چي د اسکندر له تاړاکه سره د يوناني مدنيت، او د بودا له دينه سره بودايي فرهنګ دې سيمي ته راغلل، نو دلته د افغاني محلي مدني عناصر داسي سره ګډ سول او داسي وزيږېدل سول چي يوه افغاني غوره او ښکلې جوله يې ومونده، او دلته نو هغه مدنيت نه يوناني و، نه بودايي ! بلکي خاص افغاني

و، چي د کوشانيانو په زمانو کي يې تر اوومه قرنه او د اسلام تر راتگه پوري دوام درلود او دلته يو غوره مليت او هم مملکت موجود و.

کله چي د اسلام دين او د عربو سياسي اقتدار، دې سيمي ته راورسېد نو خلکو خو د دې نوي دين فرهنگي او اخلاقي مبادي ومنل، مگر دا مملکت د عربو په سياسي اقتدار کي محوه نه سو، او ژر دلته داخلي قدرتونه د طاهريانو، سامانيانو، لوديانو، غزنويانو، غوريانو، سلجوقيانو، تېموريانو، ابداليانو، هوتکيانو، درانيانو په نومو مينځ ته راغلل او د دې سيمي موجوديت يې د يوه سياسي قدرت او خاص مملکت "خراسان - افغانستان" په نامه خوندي کی.

له دې تاريخي لنډې ځېړني څخه زما مقصد دا دئ چي د دې مملکت دغه ښکلي کړه وړه (قد و قامت) په دنيا کي يوه نوې حادثه نه ده، بلکي د تاريخ د ثابتو عواملو په حکم، هر وخت و، سته، وي به !

زموږ "ملي موجوديت" تل يو ثابت واقعيت دئ، د داريوش او سکندر او اشوکا او چنگېز او انگرېز غوندي جهان لړزوونکو قوتونو نه وکړای سوای چي دغه ټينگه ونه له بېخه وکاږي :

لکه ونه مستقيم پر خپل مکان يم

که خـــزان راباندي راشي که بهار

د رحمان بابا دغه بيت د افغانستان د خلکو د تاريخ يوه هنداره ده او تاسي که د سکندر او چنگېز او انگرېزانو تاريخونه وگورئ نو به دا درته ښکاره سي چي د دې سيمي د خلکو "ملي موجوديت" او د حوادثو په مخ کي مقاومت او ټينگار څوني غښتلی دئ؟ او دا چي تر اوسه د زمانې د ناخوالو مخي ته ټينگ درېدلي دي، علت يې هم دا دئ چي پر خپل ملي موجوديت يې ټينگ ايمان درلود او لري يې.

کله چي په نونسمه پېړۍ کي د اروپا د صنعتي او فکري تحول اثرونه موږ ته راورسېدل، او دغه ښېگني متاسفانه د استعماري اغراضو سره څنگ پر څنگ وې نو زموږ خلك د هغه تاريخي "ملي شعور" سره ورته مخامخ سول او ملي شعور داسي فيصله وکړه چي لکه قديم مدنيتونه د هغو ښېگنې واخلو مگر د استعمار ناوړه راوړي يې رد کړو، او له مملکته يې وباسو.

د افغانستان خلکو په دوو خونړيو جگړو کي د پرنگي استعمار ځکه وشاړه، چي هغه د دوی تاريخي "ملي موجوديت" ته ضرر رسوونکی و، مگر نوی تحول و نوی فکر يې ځکه ورو ورو ومانه او مني يې چي هغه يوه "نوې حياتي ښېگڼه" ده.

موږ چي کله په تاريخي دورو کي د نوو ښېگڼو سره مخامخ سوي يو، د ملي شعور په حکم مو "ښه" منلي او "بد" مو شړلي دي. دا زموږ د تاريخ فيصله ده، د ملي ځيرتابه منه ده، د خلکو د شعور حکم دئ.

په اوسنۍ زمانه کي خو د سکندر او چنگېز په څېر فاتحان نه راځي، چي زموږ کور راوسوځي، او د اور اوسپني په زور مو مځکه ونيسي، يا مو د خپل حيواني قدرت په داړو وداړي، مگر نوي فکرونه، راز راز اندېښنې، د ژوندانه د لارو چارو نوي نوي ډولونه حتماً راتلونکي دي، او هرو مرو زموږ فکرونه او ماغزه نوي نوي اغېزې مني او د دې توی مخنيوی نه سي کېدلای.

کله چي به پر دغه سيمه د پرديو تاړاکونه راتلل نو زموږ پلرونه به سره کښېناستل، جرگه به سول خبري به يې وکړې او په يوه سلا به يې د راغلي خطرې د مخنيوي لاري چاري وسنجولې، يو موټي به سول، د يوه ملت په ډول به يې د ځان ساتلو مبارزه شورو کړه.

دا مبارزه به يوه ملي مبارزه وه، ټول خلك به ورسره وو، په يووالي او گډه به پر مخ تله، او نتيجه به يې هم د "ټولو خلکو" له پاره گټوره وه.

زما يقين دئ چي د افغانستان د خلکو "مليت" او دا مملکت يو ثابت تاريخي واقعيت دئ، او دغه خلك

به لکه پخوا له اوسني فکري تحولاتو سره پخپله ګټه معامله وکړي، او دلته به د آسیا په زړه کي د نوي فکر په ګټه پسوللی خپل ملیت او موجودیت وساتي.

کله چي نوی فکر وویل سي، نو زما د اوسنۍ دنیا ټوله هغه فکري ذخیره مراد ده چي اوسنی انسان د هغې په مرسته پر مخ ځي، او د ځان له پاره یې "اجتماعي نظامونه" جوړ کړي دي.

د افغانستان اوسني خلك او ځوان نژاد به هم د خپل تاریخي موجودیت او ملیت پر بنیاد ټینګ داسي نظام مني چي هغه د دوی له پاره وي، او د افغانستان له پاره وي.

په حقیقت کي خو د مملکت تشکیل د خلکو له پاره دئ او دغه خلك دي چي خپل خلاقیت په اجتماعي نظام کي ښکاره کوي او هغه څه چي دوی ته مفید وي د ځان له پاره مني، که خلك نه وي او ددوی د ژوندانه ګټې نه وي نو هلته د مملکت او ملیت کلمات هم معنی نه لري، او تشي خبري دي.

موږ چي افغانستان غواړو، آزادي غواړو، ژوند غواړو، دا ټوله د دغو خلکو له پاره دي، چي موږ هر یو هم له دغو خلکو څخه یو، نو د خلکو آرامي، آزادي، لوړتیا، سعادت هم زموږ دي.

موږ د د دنیا په اوسني جریان کي حتماً واقع یو، او برخه پکښې لرو، د نړۍ په بین الملیت کي د یوه "ځانګړي ملت" په ډول ورګډېږو، او خپله برخه اخلو، مګر دا برخه هغه وخت زموږ په نصیب کیږي چي د ملتونو په قطار کي په تکړه بدن، تکړه فکر، تکړه شعور ودرېږو او خپل "ځانوالی" هم وساتو او هغه نوي فکرونه د خپل ژوندانه له پاره ومنو چي زموږ موجودیت راوساتي، زموږ مځکه او مملکت راخوندي کړي او زموږ افغانیت راټینګ کاندي، او زموږ خلك په آرامي ژوند وکي.

ځیني خلك د نوي فکر له راتګه څخه تره کوي، مګر دغه محافظه کاري د اوسنۍ دنیا له سریعو تحولاتو سره مقاومت نه سي کولای، نو ښه به دا وي چي موږ د ژوندانه نوی نظام او نوي فکرونه په دې شرط ومنو :

اول : هر نوی فکر چي د افغانستان د آزادۍ او موجودیت ټینګوونکی وي.

دوهم : زموږ د تاریخي ملیت ساتونکی او روزونکی وي.

دریم : د نوي عصر د ارتقایي پرمختګه سره برابر وي.

څلورم : د خلکو د حقوقو او آرامۍ او سعادت له پاره موید وي.

پنځم : د بین المللي روغي او انساني همکارۍ او د بشري ټولني له پاره مفید وي.

شپږم : د افغانستان د خلکو د تاریخي ګټورو مواریثو ملاتړ کوونکی و.

دلته دا خبره هم د غور وړ ده، چي د اجتماعي پرمختګ کړن لار د هر ملت له اجتماعي مزاجه سره برابره جوړیږي، په دې کي افراط یا تفریط سخت خطرناك وي او د ملتو عمرونه پکښې ضایع کیږي او کله داسي تاوانونه ځني رسیږي چي بیا یې تلافي نه کیږي.

د مثال په توګه : له اول جهاني جنګه څخه په ځینو شرقي ملتونو کي د نیشنلیزم حاد حرکت پیدا سو او د هغو وختو واکدارانو دا وغوښتل چي ژبه دي هم له پردو کلماتو څخه پاکه کړي. دا خو یوه ادبي او علمي خبره وه، او باید د پوهانو او ژب پوهانو په وسیله حل سوې وای. مګر دوی په خورا سرعت په دې کار کي په آمرانه ډول اقدام وکړ، ډېري پیسې یې خرڅي کړې، ډېر وختونه یې تلف کړل، ډېري نوي لغت سازۍ یې وکړې او خلك یې مجبور کړل چي ځیني نوي کلمات د زړو پر ځای استعمال کړي، مګر کله چي د هغو اقتدار ختم سو، نو خلکو بیرته هغي قدیمي ژبي ته رجوع وکړه او ژبه له پردو کلماتو څخه تشه نه سوه.

دا یو ادبي مثال و، په اجتماعي ژوندانه کي هم د افراطي اقداماتو نتیجې دغسي دي او باید داسي کارونه تر یوه اعتدالي سالم او معقول پروګرام لاندي په صداقت او خلوص اجراء سي.

ډېر ښه او مفید مبادي یې بعضاً هم ورسره ونړول، چي را ژوندي کول یې یو وخت وغوښت.

اوس هم باید موږ حتماً نوی نظر او نوي مفکورې ومنو، مګر خپل تاریخ او سوابق او اوسنی محیط او خپل خلك او د دوی د زغم ان منلو استعداد او د نوو مبادیو د تطبیق لاري هم باید وسنجوو. لکه ارتجاع او تر شا تګ چي په اجتماعي یون کي مضرکار دئ، دغسي افراط او بې سنجشه تګ هم تاوان لري او هر تخم هر ځای نه شین کیږي.

د افغانستان نوی اساسي قانون اوس موږ ته د نوي تفکر او نوي نظام لاره سمه کړې ده، خو دا خبره د خلکو او پوهانو او د نوي نسل په ځوانانو پوري اړه لري چي د نوي فکر د تطبیق له پاره سالمي او ګټوري لاري چاري وسنجوي، او له دغو ارزښتونو څخه داسي ګټه واخلي چي یو سالم او مترقي افغانستان یې د "ملي ګټو" د ساتنو سره نتیجه وي، او هم زموږ خلك د سعادت او ترقۍ خوا ته بوزي[1].

---

[1]) لمر مجله، ۱۳٤۹ ش کال، ۱۱ مه ګڼه، ۲۲ - ۲۷ مخونه.